مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۵/۰۳/۲۰

# نوورځ (نوروز)

## د طبيعت د فطرت جشن

نوورځ يا نوروز تر دې وړاندې چې په لوی لاس په کومه ګروهه (عقيده) يا سياست پورې وتړل شي، ډېر ساده يې پېژندلی شو؛ دا د طبيعت د فطرت جشن دی، د پسرلي د رارسېدلو جشن او د ترټولو طبيعي کالهيندارې (تقويم) په حساب د کال د رانوي کېدو د خوښۍ او سمسورتيا و راپنځېدلو د احساس جشن.

له هرډول مذهبي يا سياسي تړوا پرته زرګونه کاله وړاندې چې مصريانو لومړنۍ کالهينداره وټاکله، نو بنسټ يې د طبيعت او فصلونو بدلون و. دوی د لمريز او سپوږميز کال توپير د نيل د اوبو لوړېدل او کوزېدل او د Sopdet سيريس (سوتيس يا شباهنګ) ستوري راختل ګڼل. دا ستوری د اوړي په سم نيمايي کې راخېژي او د هغه تر راختلو څلورنيمې لمريزې مياشتې مخکې يې د نوي لمريزکال لومړۍ ورځ ګڼله، چې همدا د نوروز ورځ کيږي. مصريانو دا ورځ د کرکېلې و سمسورتيا د پيل جشن ګاڼه.(۱)

اريايان د سهيل لورې ته د ډلهييزې ليږدېدنې پرمهال پوونده کوچيان ول، ترميلاد شاوخوا څلورزره کاله وړاندې له امو په رااوښتلو او بيا د هيندوکوښ سهيل ته د هيند تر شمال او لويديز ته مخ په کاسپين د تللو پرمهال ورو ورو مېشت شول او په کرنه يې پيل وکړ، د دوی د ژوند په دواړو پړاوونو ( شپني او بزګرۍ) کې پسرلی د ژوندژواک د ښه موسم زيری و. زموږ اريايي نيکونو دا ورځ د اقتصادي اړتيا له مخې ښه ګڼله، دا چې روسته يې له زردښتي دود دستور سره اړيکه وموندله، لامل يې دا و، چې زردښت پخپله د کرکېلې، رمه ساتنې و طبيعت پالنې پلوی و. د زردښت د نامه يوه مانا (اوښ‌لرونکی) يا ( د زېړ اوښ خاوند) بلل شوی دی. د ګاتونو/ ګاڅونو او د اوستا په نورو سرودونو کې د رمو، پسرلي، باران او سمسورتيا ګڼې يادونې وينو.

په تاريخي سرچينو کې هم د نوروز تر اساطيري او افسانوي ځانګړنو وړاندې دغه جشن د طبيعت، پسرلي، ښکلا، کرکېلې او لمريزکال د اوښتو مناسبت ګڼل شوی دی. حکيم عمر خيام چې د غوره شاعرۍ ترڅنګ په نجوم کې هم يو نوموتی پوه دی او د جلالي لمريز تقويم له بنسټوالو ګڼل کيږي په نوروز نامه کې ليکي:

«ازاده ژباړه :د نوروز نوم ځکه پرې اېښوول شوی، چې کله وپوهېدل لمر دوه دورې لري او هر درې سوه او پينځه شپېته ورځې په څلرمه برخه کې د حمل لومړۍ دقيقه رانوې کيږي هماغه وخت نوې ورځ رارسيږي ...» (۲)
حکيم عمرخيام تر دې وړاندې په نوروزنامه کې د انګورو د ونې د رامنځته کېدا کيسه کوي:

پخوا په هرات کې يو پاچا و، چې (شاه شميران نومېده ) او د باغونو له روزنې سره يې مينه لرله، يوه ورځ په خپل باغ کې ناست و، چې ګوري يوه مار ځان د هما له يوه مرغه تاو کړی او غواړي ويې خوري، د پاچا زوی مار په غشي ولي او مرغه ژغورل کيږي. کال ته په هماغه ورځ بيا پاچا د پسرلي په سيل ناست دی، چې هماغه مرغه راځي او له خپلې مښوکې څوداني د پاچا په مخ کې غورځوي، پاچا خپل باغوان راغواړي او د مرغه کيسه ورته کوي، چې تېرکال مو ژغورلی و، سږکال يې موږ ته يوه ډالۍ راوړې ده اودانې ورکوي، چې ويې کري. باغوان دغه دانې کري او د انګورو يوه ښکلې ونه ترې زرغونيږي او بيا انګور نيسي. د خيام په نظر ځکه نو په هرات کې د نړۍ تر ټولو رنګارنګ [ سل ډوله] او ښه انګور کيږي) .۳ (خيام وايي: دغه ورځ د نوروز ورځ وه.

نوموتی پوه ابوريحان بيروني په خپل کتاب «التفهيم» کې د نوروز په اړه ليکي:



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

«ازاده ژباړه :نوروز د فروردین (وري) د میاشتي لومړۍ ورځ ده او څکه یي نوې ورځ بولي، چي د نوي کال تندی ده او تر دې روسته پینځه ورځي جشنونه وي او په شپږمه ورځ یي لوی نوروز وي...) (۴)

په پښتو ادبیاتو کي چي هرکله نوروز یاد شوی، د پسرلي، سمسورتیا، ښکلا، هیلو مینې او طبیعت د غوړېدو د جشن په توګه یاد شوی دی. لږ ترلږه په پښتو ادبیاتو کي موږ هیڅ ځای د نوروز کوم مذهبي یا سیاسي تړاو موندلای نه‌شو : د خوشال خان ختک لاندي بیتونه وګورئ:

**بربر رایشه نوروزه دلفروزه**
**ستا په وخت مي اسوده شي سترګی پوزه**

**د نوروز له فیضه بوټي خالي نه وي**
**فیض یې رسي هم تر سپاندې هم تر ځوزه**

**په راتلو درسره ډېرې خوښی راوړه**
**پر خوشحال ختک دې قدر دی نوروزه**

یا:

**د نوروز منت په باغ دی په صحرا هم**
**نوراني یې شي له فیضه هغه دا هم**

بل ځای:

**نور باغونه د نوروز په ورځ غوړیږي**
**په اهار کا غوړېده د کابل باغ (۵)**

موشګاف حمید ماشوخېل هم نوروز ته خوښی او بزم تغزل د موسم په سترګه ګوري:

**هغه دم شاه جهان شم په دماغ کی**
**چي له ښکلو سره کېنم په نوروز (۶)**

د دواړو لویو شاعرانو په شعرونو کي له نوروز سره د پسرلي ښکلا، د مینې احساس، د طبیعت د پنځون او غځوونو هنري غبرګون وینو. داسي ښکاري، چي دغه جشن افغانانو په دوديز او تاریخي توګه لمانځلی او دا مهال یې د طبیعت له ښکلا خوند اخیستی، د کال د ښېرازۍ هیلو خوش کړي او د کار، تولید و کرکیلي لپاره یې لا پسي ډېر توان وربښلی دی.

امیرعبدالرحمن خان له شخصیتي پلوه متدین او په دین ټینګ پاچا تېر شوی دی. د اسلامي شریعت پر پلي کېدا د ده ټینګ درېځ ټولو ته څرګند دی، خو همدغه امیر هم نوروز د افغانستان په مهمو اخترونو کي شماري او د رسمي لمانځني حکم یې ورکوي، دی په دې اړه په خپل منسوب کتاب تاج التواریخ کي لیکي:

«ژباړه ولنديز: په افغانستان کي د اخترونو او رخصتیو په هکله، په کال کي پینځه اخترونه لمانځل کیږي، چي په لاندي توګه دي، کوشنی اختر، لوی اختر چي په قمري میاشتو ټاکل کیږي، دریيم اختر د برات دی... څلورم اختر د نوروز دی، چي هرکال د فرانسي د میاشتو په حساب د مارس په یویشتمه راځي...» (۷)

بل ځای لیکي: خپلو همکارانو ته مي وویل، چي هیندکي (اوسني چهلستون) ته ولاړ شئ او د نوروز ورځ ښه شانداره ولمانځئ او خوښ اوسئ.

کاندید اکادمیسین محمد اعظم سیستاني لیکي:

«د اعلیحضرت شاه امان الله د سلطنت پرمهال به د نوروز په ورځ پاچا د یوې وینا تر اورولو روسته دغه ورځ د قولبه کولو په جشن پیلوله، قولبه کول به پخپله پاچا امان الله پیل کړل، اعلیحضرت په دغه ورځ بزګري جامي اغوستلي او ملا به یې په یو ځادر تړله، په خپل لاس به یې زغ پر غوایي تاړه او په سپاري پسي به روان، زمکه به یې څیرله، هغه په خپل دې کار بزګري او کرکیلي ته ارزښت ورکاوه. په دې ورځو کي به له ټول هېواده ښه روزل


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څیر و لولئ

شوي ښاروي او مرغان د ده له مخې تېرېدل او ده به برياليو بزګرانو او ښارويو روزونکيو ته ډالۍ و سوغاتونه ورکول، نيالګي به يې کېنول او په دې توګه د نوروز په جشن کې د دهقان ميله له همدې ورځې پيل شوه) «۸ (چې روسته بيا د هېواد په رسمي کالهېنداره کې ځای ورکړل شو.

د نوروز په شاوخوا ورځو کې په افغانستان کې ګڼې ميلې ترسره کيږي، چې يوڅو يې دا دي:

دهقان مېله، د مزار ګل سرخ مېله، جنډه پورته کول، د شاطرانو ميله، د قولبه کشی مېله، د سمنکو مېله، د باغ لطيف مېله، د سخي مېله، د دارلوبې مېله، د جبې مېله، د منډهيي مېله، د نيالګيو د کېنولو مېله، د تخت صفر مېله، د کال د لومړۍ چارشنبې مېله او نورې.

لنډه يې دا چې نوروز د طبيعت جشن دی، د طبيعت د فطرت او ښکلا جشن، چې د انسانانو په ښکلاييز ذوق کې غځووني کوي. دا جشن له کرکېلې او سمسورتيا سره پيوند لري او هرځای چې انسانان د طبيعي کال نوي کېدو ته خوښي څرګندوي هلته نوروز لمانځل کيږي. نوروز په کومه ځانګړې عقيده، دين يا سياسي پېښه پورې تړل سم کار نه دی. د جمشيد يا بل پاچا د واک ته رسېدو کيسې د زړې اريانا د اساطيري زماني نکلونه دي، چې کوم عقيدوي ماهيت نه لري. نوروز نه کفارو سره مشابهت دی او نه له بل چا سره، بلکې په دې او هغه نوم د دغه طبيعي جشن د لمانځلو مخنيوی د خلکو د دود دستور په وړاندې درېدل، تنګ‌نظري او بېځايه تعصب او استبداد دی، چې ښايي د افغانستان زړور ولس يې مخه ونيسي او په بشپړه زړورتيا د خپلو نيکونو او اسلافو دغه ملي - دوديز جشن په پوره خوښی سره ولمانځي.

او له دې سره مو نوروز او نوی لمريز کال بختور شه، خوښ، نېکمرغه او ګټور کال ولرئ!

---


۱- Britannica. (n.d.). Egyptian calendar. Encyclopedia Britannica. Retrieved from
۲ -نوروزنامه، حکيم عمرخيام، د مجتبی مينوي سمونه، انتشارات امير، ۱۳۸۰ کال، دويم مخ .
۳ -نوروزنامه، ۷۰ مخ .
۴ -التفهيم، ابوريحان بيروني، د جلال الدين همايي په زيار، آثارملي انتشارات ۲۵۳ مخ
۵ -ارمغان خوشحال، خوشحال خان ختک، مقدمه د سيدرسول رسا، پېښور، دويم چاپ ۲۰۰۱ ، بېلابېل مخونه
۶ -د عبدالحميد مومند ديوان، حميد مومند، د افغانستان د علومو اکاډمی، ۱۳۶۱ کال، ۱۱۶ مخ.
۷ -تاج التواريخ، اميرعبدالرحمن خان، لومړی ډبرين چاپ ۱۳۱۹قمري، دويم ټوک، ۷۷ م مخ .
۸ -جشن نوروز يا ميله دهقان در افغانستان، کانديد اکاډميسين سيستاني، افغان جرمن انلاين.




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ